# "پښتون" د تاريخ په رڼا کښې

سېد وقار علي شاه کاکاخېل

باچا خان چې څهٔ وخت د سياسي قېدي په حېث جېل کښې ؤ نو هغه خپله وائي چې هغهٔ به هر وخت په دې فکر کولو چې د پښتنو د کم علمۍ او جهالت څهٔ سبب کېدے شي. د ډېر غور او فکر نه پس "زهٔ په دې نتيجه ورسېدم چې په دنيا کښې هيڅ قوم بغېر د خپلې ژبې نه ترقي نهٔ شي کولې او په هغوي کښې علوم او فنون پېدا کېدے نهٔ شي" (باچاخان، زما ژوند او جدوجهد، کابل 1983، ص333).

هغهٔ دا اراده وکړه چې ضرور به يوه رساله د پښتون قام د پوهولو دپاره د دنيا د حالاتو نه د خبرولو دپاره او د خپلې ژبې سره د مينې لرلو دپاره جاري کوي. د جېل نه په بهر راوتو کال 1924 کښې باچا خان او د هغهٔ ملګرو په دې لړ کښې کار شروع کړو او آخر د څهٔ موده خوارۍ نه پس په کال 1928 کښې د دې رسالې په راويستلو کښې کامیابه شو.



د "پښتون" په نوم ورومبۍ رساله د مۍ کال 1928 په مياشت کښې راووته. په ورومبۍ ګڼه کښې د رسالې اغراض او مقاصد داسې بيان شوي دي.

اول مقصد ئې دا دے چې موقعه په موقعه د پښتنو د حقوقو ساتنه وکړي او خپل پوره پوره کوشش وکړي چې په زړورتيا او په اوچت اواز پښتانهٔ د راتلونکو خطرو او نقصانونو نه آګاه او خبر کړي. ليکي چې "ځان ساتنه په هر چا فرض ده، پښتانهٔ هم کهٔ دلته دي او کهٔ په افغانستان کښې يو قوم لګيا دے جوړېږي، دوي ته هم هر يو حق حاصل دے چې د خپل ځان پوره پوره ساتنه وکړي. په دې حقله د نورو خبرو نه يوه دا خبره هم ده چې دوي ته

په خپله ژبه کښې قومي اخبارات جاري شوے چې وخت په وخت سره په کښې خپل خیالات ظاهروي. د دې دپاره "پښتون" اخبار جاري شۀ، امېد دے چې سیاسي، تعلیمي وغېره وغېره مېدان کښې کۀ دنور چا نه وروستو نۀ وي او د خپل کار اېستلو دپاره به هغه لار اختیاروي چې روغه او مطلب اېستونکے وي." (پښتون مئ کال **1928** ص، **7**).

دا رساله وړومبۍ د میاشتیزې په طور په راولپنډۍ کښې شائع کېده، وروستو بیا د امرتسر نه چاپ کېده او په اخر کښې به بیا د پېښور نه راوته. په وړومبي دور کښې د رسالې په وړومبۍ پاڼه د باچا خان نوم (عبدالغفار خان) د چلونکي په حېث او محمد اکبر خادم د مرستیال په حېث لیکلے ؤ. په کال **1931** کښې چې د خادم صېب د باچا خان سره اختلافات راغلل او د خدائي خدمتګارۍ نه ئې استعفٰي ورکړه د هغۀ نه پس د رسالې کار عبدالخالق خلیق صېب ته ور په غاړه کړے شو، خلیق صېب ډېره په کامیابۍ سره رساله د اپرېل کال **1948** پورې وچلوله او بیا د خپل کار د زیاتوالي په سبب ئې دا ذمه واري ناظم سرفراز خان ته وروسپارله چا چې تر اګست کال **1948** پورې رساله سمباله کړې وه.

"پښتون" د حالا تو په سبب څو څو ځله بنده کړې شوې ده او بیا شروع شوې ده. د وړومبي ځل د میاشتیزې په حېث د مې کال **1928** نه واخله تر اپرېل کال **1930** پورې خوره شوه. په اپرېل کال **1930** کښې د قصه خوانۍ خونړۍ پېښه وشوه په تحریک پابندي ولګېده او باچا خان هم سره د خپلو نورو خدائي خدمتګارو ملګرو د جېل په تورو تمبو دننه کړے شو نو په "پښتون" هم پابندي ولګېده. دا پابندي بیا چې کله باچا خان د ګاندهي اروِن پېکټ (مارچ کال **1931**) لاندې راخلاص شو نو اوچته شوه. دا ځل هم "پښتون" د میاشتیزې په حېث د مۍ کال **1931** نه راوتل شروع شوه او څو میاشتې یعنې هم د دغې کال تر دسمبر پورې وچلېده. په دسمبر کال **1931** کښې یو ځل بیا باچا خان او تحریک باندې ګوزار وشو نو په "پښتون" پابندي ولګېده.

د "پښتون" درېم دور د کانګرس په وزارت کښې شروع کېږي، دا ځل دا به په میاشت کښې درې رسالې راوتې، دا دور د اپرېل کال **1938** نه واخله تر دسمبر کال **1940** پورې ؤ. په دسمبر کال **1940** کښې پرې حکومت بیا پابندي ولګوله، د "پښتون" څلورم دورم د مۍ کال **1945** نه واخله تر اګست کال **1947** پورې دے. دې دوران کښې به "پښتون" په میاشت کښې څلور ځله راوته، یا داسې وئیلے شو چې د پاکستان جوړېدو نه مخکښې دا د "پښتون" اخري دور ؤ او دا ځل دا اووۀ ورځنۍ وه.

اخري رساله په لسم د اګست کال **1947** راووته او بیا پرې پابندي ولګېده. د باچا خان په مشرۍ کښې هم دا څلور دورونه د "پښتون" وو بیا وخت په وخت ځنې مشرانو په دې نوم د رسالې خورولو کوشش کړےدے خو ډېره موده نۀ ده چلېدلې او په څۀ وجوهاتو به بنده شوه.

داسې دا وئیلے شو چې د "پښتون" :

وړومبے دور (میاشتیزه) : مۍ کال **1928** نه تر اپرېل کال **1930** پورې دے.

دوېم دور (میاشتیزه): د مۍ کال **1931** نه تر دسمبر کال **1931** پورې دے.

دریم دور (لس ورځنی): د اپریل کال **1938** نه
تر دسمبر کال **1940** پورې دے.

**ځلورم** دور (اووۀ ورځنی): د مۍ کال **1945** نه
تر **10** اګست **1947** پورې دے.